# ناتو« NATO »
# او
# دناتو« NATO »  پېژندنه !



نهولسمه برخه :

**دانترنيټ دفارسی سرچينوڅخه**

**ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل**

## په منځنۍ اسيا کې دستری لوبی : نوې پړاو !

**د(۱۹۹۱) م کال  څخه راوروسته اود(۵)پينځه نوې خپلواکه هيوادونوجوړيدل دپخوانی شوروي اتحاد په سيمه کښې ،د«ستری لوبی » نوې پړاو په سيمه کښې اوخصوصاًدپلان سويوکړنلارو په وسيله دسيمی ژئوپليټيکی محاصره اوپه سيمه کښې دهيدروکاربينی ستروزريموکنترولوپيل سويدی .**

**دمنځنۍ اسيا په برخه کښې دامريکا زيار په هراړخيزه توګه سره صورت نيسی اودسياسي اوديپلوماتيک پيل ،نظامي ،اطلاعاتی  څيړنيزو اود«غيردولتی »جوړښتونو دفعاليتونو څخه عبارت دی .**

**دتير کال پيښي ددی ښکارندوی دی چې واشينګټن دناټوڅخه په کاراخيستنی سره دنظامي اوسياسي پوښښ ترسرليک  لاندی  ډيرپه پوهاوی اوموخی لرونکی ډول سره دخپلوموخوپه تطبيقولواولاسته راوړلوسره دمنځنۍ اسيا په سيمه کښې بوخت دی .**

**دامريکاهيواد په خپل دی پيل سره په دی اړه ډيرپه زيرکی سره پرمخ ځي اوخپل لومړنی  مسايل تصحيح کوی اومخ په وړاندی روان دی  همدارنګه  په عين وخت کې اوږدمهاله ګټی بيله بدلونه پاتيږی .په دی لړکې دځيروړ دی چې دامريکا دجمهور رئيس باراک اوباما وروستی اعلاميي دافغانستان دخاوری څخه دامريکايی ځواکونورا ايستل په تدريجی توګه سره د هغه دپخوانيواعلاميو سره په دی هکله توپير لري  چې لويديز ائتلافی ځواکونه داوږده مودی دپاره په دی هيوادکې پاتيږی . که ودی مسئلی ته په ساده توګه وکتل سي داهسی يوسوچ رامنځته کيږی  چې دامريکا هيواد**

يو هرخيز اوپوره استراتيژی نه لري . اما بايد وويل سي  که داهسی وای ، هغه څه چې  همدا اوس په افغانستان کې پيښيږی هغه به نه واي رامنځته سوی  .

امريکائيان د(۲۰۰۴) م کال څخه تراوسه پوری   په فعاله توګه سره دشينډنډ اودبګرام دهوايی ډګرونه اودالوتکودراکښته کيدواوپورته کيدودپاره د(۳۵۰۰)دری زره پينځه سوه متری  رنوی اودسرکونواوليکوپه جوړه ولوبوخت دی  چې کولای سي (B- ۵۲-ب ) ډوله  درانده بم غورځونکی استراتيژيک  الوتکی په دی هيوايی اډيواوډګرونوکښې راکښته سي او والوزی  اوهمدارنګه نوردېر ترمځکې لاندی اوپرمځکه باندی جوړښتونه اوساختمانونه جوړيږی  اوکولای سو ووايو چې دلمړی واک په توګه په سيمه کښې ډېري ستري واکمنی اډي اوښارګوټی يې ترمځکی لاندی  داصلی موخو ترسرليک لاندی په افغانستان کې دامريکا اودناټودشتون دپاره جوړيږی اورامنځته کيږی  . دشينډنډ اودبګرام هوايی ډګرونه کښې يو وخت دپخوانی شوروی اتحاد دهوايی ځواکونواډه هم وو اواوسمهال دناټودهوايی ځواکونودپاره په يوارخيز هوايی اډی سره  اوښتی دی  اوپه ډېر پرمختللی هوايی اوفضايی وسائيلو اوسامان الاتو باندی سمبال سوی دی    اوعملآ کولای سي چې دټول اوراسياهيوادونو هوايی حريمونه ترخپل کنترول لاندی  راولی اوکنترول يې کړی  .

برسيره پردی په منځنی اسيا،دخزرپه سيمه  ،په قفقازاوپه ختيځی اومرکزی اروپا کښې هم دهوايی حريمونودکنترول سيستمونه جوړسوی دی  اومکا کريدوردوسائيلوپرورلواوراوړلو  اوپرهوايی انتقالاتوباندی دکنترول دپاره  داروپا څخه نيولی بيا ترچين پوری ددی سيموپرهوايی اوفضايی حريمونوباندی جوړ اورامنځته سوی دی . امريکا اوناټودافغانستان په ګاونډيوهيوادونو کښې (۶) شپږ نظامي اډی  لري  اوکه څه هم د«ترميز) نظامي اډه په ازبکستان کې اود(ماناس ) نظامي اډه په قيرغيزستان کې  تراوسه پوری په دی سيمو کښې سته دی  اوفعاله دی اودهغه  څخه کار اخلی اوپه رسمی توګه سره يوازی دوړلواو راوړلو اوانتقالاتوهوايی ډګرونه دي   اودنظامي  الوتکودراکښته کيدواوپورته کيدودپاره هيڅ ډول ستونزی په دی اړه نه ليدل کيږی  .منځنی اسيا دناټودنظامي ماشين په وسيله سره ترلاسه سوی دی **اوعملآ دسويلی عامل په توګه  سره دروسيی محاصره دائتلاف دنظامي اډيو په وسيله رامنځته سوی دی .**

په همدی ډول دامريکا دبهرنی سياست اصلی موخی په منځنی اسيا کې ،دسيمی دانرژيو پرزريموباندی خپله اچول ،کنترول اودهغوي لاسته راوړل دي او دسيمی څخه د روسيی اودچين دهيوادونوليری ساتل اودلاسو وهنودپاره  رسمی پلمه کيدی سي چې د« ګډوډی اودشخړو اداره اوکنترول وي » چې په سيمه کښې دسيمه يزوګډوډيواوشخړو دپوتانسيل دکتی اخيستنی  په وسيله سره راوپاره ول شي  اورامنځته دی سي  .

# ناټو په ګرجستان کې پوځي آزموينې پيل کړی اوروسيه هغه دخپل هيواد پرضدښکاره لمسوني بولي :

د روسيی جمهور رييس ديمتری  ميدويدوف په دی اړه وويل : «هيڅ وخت په داهسي ځاي کښې بايد نظامي تطبيقات او مانورې تر سره نسي، چې همدا لږ ه موده مخکي هلته جنګ ؤ. اودا ډول کړنی هيڅوخت مورته  د منلو وړندی .»
د ناټو مخکنی پوځي تطبيقاتو هيڅکله هم  مخ ته تر مخه  دغه  ډول سياسي جاراوجنجال يې نه وو رامنځته کړي ،لکه دغه  د سولي او  همکاری په چوکاټ کي دګرجستان اودناټوتطبيقات چې په هغه کي تر لسو ډيرو د ناټو غړي هيوادونه اويوشميرنوردناټوملګر ی هيوادونه چې د ناټوغړيتوب نلری په دی تطبيقاتوکې ګډون لری اودټولوګډونکوونکوهيوادونوڅخه( ۲۰۰۰ ) دوزره تنه سربازان ،افسران اونظامي متخصيصين د وسلو څخه  پرته، برخه اخلي . او دغه تطبيقات  په داهسی يو هيواد کښې تر سره کيږي چې يو کال يې لا د جګړی  څخه نه تيريږي  . څه موده مخکې د روسېي جمهوررييس

میدویدوف وویل چي : « دګرجستان په هیواد کي دي باید نظامي تطبیقات او مانورې تر سره نسي، ځکه چی همدا لړه موده مخکي هلته جګړه وو. اوداکړنی هیڅله هم زمونږ د منلو وړندی . »
دغه خبره په حقیقت کي پرځای هم ده . د تیرکال د اګست د جګړی انځورونه چي په هغه کي ګڼ شمیر خلک په دی سیمه کښي مړه او زخمیان سول ،کورونه یي ونړیدل ، کلی اوښارونه یي ویجاړسول ، د ټولو په یاد دي .
اوس هم د شپي دخوا د دواړوخواوپه پلوکي ،کله،کله د ګرجستان او جلاسوو جمهورریتو، جنوبي اوستیا اوابخازیا تر منځ ډزی او نښتي رامنځته کیږي .
خومهم داخبره دی چي د روسیي، ګرجستان او ناټو تر منځ یوازي د پوځي تطبیقاتو د ښه والي یا خرابوالي تر مسئلی نورډېرمهم مسایل هم سته دی چي وهغه. ته پاملرنه وسي ځکه چي د مي په میاشتي په کي د روسیې او ناټو د لوي درستیزانو لیدنه کتنه نه تر سره کیږي . روسیې همدارنګه د خپلو متحدینو څخه وغوښتل چی دناټو په پوځي تطبیقاتو کي چي دګرجستان په هیواد کي ترسره کیږی برخه وانخلي ،چي دروسیی ددی غوښتنی په نتیجه کښي قزاقستان ،صربستان او دملداویا هیوادونه په دی نظامي تطبیقاتو کي د نه ګدون اعلان وکړ
اوناټو د خپلی لوری نه دوه تنه روسیی دیپلوماتان یي چي په بروکسیل کي دناټو په مانی کي په کاربوخت وه د غیر مناسبو اشخاصو په توګه یي اعلان کړل اودوي یي دبروکسیل څخه وشړل ، چي بل مقابل بیا د روسیي خارجه وزیر سرګی لاوروف د ناټو د خارجه وزیرانو سره په پلان سوي لیدنه کتنه کي د نه ګډون اعلان وکړ اوروسیه هم دوه کسه اروپایی دیپلوماتان یي ددی عمل په وړاندی دعکس العمل په توګه دخپل هیواد څخه وشړل .
داچي روسیه په رسمي ډول د ابخازیا او جنوبي اوستیا د پلواوسرحدونو دفاع پرخپله غاړه اخیستي ده ، داهم د دواړو خواوو دډیپلوماتیکي کړکیچ په د منځه وړلو کي مرسته نه کوي .



پوځي آزموینې او که ربښتیا هم لمسونی؟

میدویدوف په دی هکله یي بیا وویل :

«چي دروان کال دمي دمیاشتی (۶ می ) د شپږمی نیټی دڅخه بیا د جون دمیاشتی تر لومړی نیټی پوري په ګرجستان کي دناټواوګرجستان دځواکونوپلان سوي ګډنظامي تطبیقات په ښکاره ډول زمونږدملی ګټوپرضداوزمونږدملی امنیت دپاره لمسون دي . »

دغه تطبیقات به د ګرجستان جمهوررییس ساکاشویلي ته جرئت ورکړی ، تر څو بیا ځان په وسلیوسمبال کړ ي ، او بیاجګړه پیل کړی . دهغه کړنی څخه چي دجنوبي اوستیا او دابخازیا جمهوریتونه اوخلک ورنه بیره لري . » په تفلیس او ناټو کي هم اوس د لمسون څخه خبري کیږي . د

گرجستان سره په پلو کې د نورو روسیی ځواکونو ځاي پر ځاي کیدل د شیږ فقره اي پلان څخه یوه ښکاره تیري اوسرغړونه ده .

# دروسیی فیدراتیف وایی : امریکااوناټو ستر ګواښ دنړیوال امنیت پرضد دی

دروسیې ولسمشر امریکا او ناټو یې دنړیوال امنیت دپاره تر ټولو ستر ګواښ وباله . کریملین دیو راپور په خپرولو سره دروسیی دملي امنیت استراتژی انځوروي دساړه جنګ دبیا پیل کیدوپه هکله خپله اندیښنه یې وړاندی کړي خو په عین حال کې وایي روسیه هم په هغه ډول سره کولی سي وخپلو بهرنیو اړیکو ته پایښت اودوام ورکړی . **داپه داهسی حال کی دی چې روسیه غواړي اوزیار باسی ترڅوخپلی اړیکی دامریکااوناټو سره دقفقاز د(۵) پینځه ورځنی جګړی نه چې په (۲۰۰۸) میلادی کال کې رامنځته سواودهمدی جګړی دکبله دغه اړیکی خړپړاو ویجاړ سوی وو، دروسیی هیواد په نظر کې لري اوغواړي چې دغه اړیکی بل ځل پیل اورامنځته کړی .**

کرملین په خپل سیاسي اودملی امنیت په سند کې چې داوسه څخه بیا تر(۲۰۲۰) میلادی کال پوری جوړسوی دی اوددغه ملی امنیتی سنددااستراتیژی په رڼا کې دامریکا هیواد اودشمالی اتلانتیک دناټونظامي سازمان ائتلاف یې **ستر ګواښ دنړیوال امنیت اودروسیی دملی امنیت پرضد بللی دی اوپه دی سند کې ددوي نه یې نوم اخسیتدی دغه** سند چې دروسیی دهیواد دملی امنیت سیاستونه اواستراتیژی د اوسه څخه بیا تر (۲۰۲۰) م کال پوری انځور کړیدی څه موده مخکې دکرملین دجګیوړوچاروا‌کو لخوا‌خپوراواعلان سو.

دکرملین چاروا‌کي په دی بیانی کې اعلان وکړ،مسکودهمدی ډول ګواښونوپه وړاندی به هرومروخپل ګټور اومنطقی بهرنی سیاست را منځته کړی ترڅوپه همدی ډول سره وکولی سي دتسلیحاتی سیالیودمنځته راتلومخه نیوی وکړی کوم چې دغه سیالی دساړه جګړی په وخت کې رامنځته سوي وو. دا په داهسی حال کې دی چې دروسیی هیواد په دی پسی دی ترڅو خپلی اړیکی دواشینګټن سره دقفقاز دپینځه (۵) ورځنی جګړی راوروسته چې په (۲۰۰۸) م کال کې ویجاړ اودتریخوالی سره رامنځته سوي وودسره پیل راتینګ اوښهی اړیکی رامنځته کړی . او دنویو وسله والوسیالیو د پیلیدو څخه به ډډه وکړي .
ددغه دیارلس مخیز راپور په یوې برخې کښې چې دروسیې ولسمشر دیمیتري میدویدیف هغه یې لاس لیک کړی دی راغلي دي چې دنړی په بیلابیلو سیمو او په تیره بیا د یورو اتلانتیک په سیمه کښې دثبات نه شتون دناټوداوسنی کړنود کبله دی اواوسمهال ناټو دنړیوال امنیت دپاره یو زیاتیدونکی ګواښ دی .
ددغه راپور په یوې بلې برخې کښې په ختیځې اروپا کښې دتوغندوي ضد سیستم دځای پرځای کولوپه هکله دامریکاپه دی پیل باند ی یې کلکه نیوکه سوې او دتوغندوي ضد سیستم دځای پرځای کولو دپاره یواړخیزه پیل هم دنړیوال امنیت دپاره یوبل سترګواښ بللی دی . مسکو همدا رنګه هیله څرګنده کړی ده چې دامریکا دولت خپل دهغه طرحی څخه چې دتوغندیوضدسیستم دجوړولوپلان دپولنډ اودچک دجمهوریت په هیوادونوکې یې لري دهغه څخه دی لاس واخلی .

**دمیتری میدویدوف** دروسیی جمهور رئیس څه موده مخکې دفنلاند هیوادپه پلازمینه کې دهلسنکی په پوهنتون کې وویل : « روسیه په ټینګه سره دامریکا دیواړخیز زیار په هکله دتوغندیوضد سیستم دپراختیا اودجوړیدوله کبله ځارګره ده چې دغه کړنه د دوهیوادونوتسلیحاتی انډول دمنځه وړي »

اوامریکا پریکړه یې کړی ده چې خپل داټومي زریموښخه پرمختللی اټومی راکیټی وسایل دپولنډپه خاوره کې اودچک دجمهوریت په هیواد کې ترلسوپوری توغندیوضدسیسټمونه ځای پرځای کړی .

دروسیی ددی ملی امنیتی اشد محرم اوکاملآ پټ سندبله برخه دانرژی دتامنیدواودلاسته راوړلوموضوع ده چې دکرملین برخه اخیستنه یې دقطبی سیمو دنفتواوګازودبډایوزریموپه هکله یې بربنډه کړی ده ،روسیه ،امریکا،کاناډا،ناروی اودډنمارک هیوادونه ټوله دقطبی زریمودانرژی دلاسته راوړلواوګټه اخیستلوپه اړه ډېرهیله منددي،نودهمد ی سیمودنفتواودګازودانرژیودزریموورایستلواووتر لاسه کولوته ډېره خاصه پاملرنه لري اوددی کبله ددي نوموړوهیوادونواړیکي هم دګډوډیو اودخړپړ وضعیت په سیوری کې روانه ده چې همدا اوس دنړی دهوا دتودوخی ددرجی دډېریدو د کبله چې دقطبونویخي قرارقرارمخ په ویلی کیدودي،نوپه دی هکله ددی سیمی دانرژیودزریمو په اړه یې ډېرګواښونه اوکړکیچونه هم دنوموړوهیوادونوترمنځ رامنځته کړي دي ./

(نوربیا،په شلمه برخه کې ادامه لري)

اخیځلیکونه : داستراتیژیکوڅیړنودسایټ او دریانووستی څخه .